هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

لومړي کال (۱۷) پرله پسي (۶۹مه) ګڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ کال دجدي ۱۸ مه د۱۴۱۲ هـ ق کال درجب المرجب ٤ مه د ۱۹۹۲ میلادي کال دجنوري ۸ مه نیټه

دهرات دهوایی ډګر ۱۰۰ تنه ملیشه او دری قوماندانان مجاهدینوته تسلیم شوی

هرات ، میډیا :
دکوېټی دمیډیا نمایندګی دهرات ولایت څخه خبر راکړی چی دهرات دهوایی ډګر دامنیتی ملیشه دغوند دری تنه قوماندانان دخپلو سل تنو ملیشه یانو په شمول بی جګړی مجاهدینو ته تسلیم شوی دی .
خبر ځای وایی چی ذکر شوو دری ملیشه قوماندانانو دخپل ځان سره سل میله کلاشینکوفونه او دوه عرادی ګاز موټر اویو مقدار مهمات مجاهدینو ته دغنیمت په ډول راوړی وو دغه ملیشه دهوایی ډګر دساتنی لپاره له کابل څخه هرات ته راوستل شوی وو .

تشکیل یك کمسیون ۳ نفری برای حل قضیه افغانستان

پشاور ، میدیا :
چند تن از رهبران مجاهدین درنشستی بمنظور حل قضیه افغانستان به تشکیل کمسیون سه نفری توافق کردند .
این رهبران مجاهدین روز ۸ جدی طی جلسه درپشاور به تشکیل کمیسیون سه نفری بغرض جستجوی راه حل قضیه افغانستان به توافق رسیده اند .
برطبق این توافق ریاست کمیسیون بر عهده استاد برهان الدین ربانی رهبر جمعیت اسلامی افغانستان می باشد که مولوی محمد نبی محمدی رهبر حرکت انقلاب اسلامی وشیخ اصف محسنی رهبر حرکت اسلامی بحیث اعضا دران شامل اند .
قرار است کمیسون با رهبران مجاهدین به غرض کسب نظرات انها ملاقات ها ومذاکرات جدا گانه بعمل اورد

یك قوماندان با ۸۰ تن از ملیشه هایش به مجاهدین پیوست

جوزجان ، ۹ جدی :
دفتر سیاسی شورای قوماندانان از ولایت جوزجان اطلاع داد که جګرن محمد زلګی قوماندان کندك پیاده فرقه ۵۳ مرکز ولایت جوزجان با ۸۵ تن عسکر مسلح تحت قومانده اش دراثر تماس قبلی با مجاهدین منطقه بتاریخ ۹ جدی به مجاهدین پیوست .
جګرن موصوف ۸۵ میل کلاشینکوف ، ۳ میل ماشیندار پیکا ٤ میل راکت انداز ارپی جی ۷ و ۲ عراده موتر لاری نظامی ویکصد صندوق مرمی سلاح مختلف النوع رابه مجاهدین تسلیم داده است.

کوریایي اتوم پوهان په اسرائیلوخرخیږي !

دامریکاله کانګریس څخه ترلاسه شوي اطلاعات

په ۸ مخ

الحاج مولانا جلال الدین حقاني دروسانو دیرغل دکلیزې په مناسبت په یوه راډیویي وینا کې :

افغانانو «سومنات» مات کړ ، دانګریزانو امپراطوري یې ماته کړه اودادی اوس یې دروسي امپراطورۍ دماتې او ړنګیدو ویاړ هم وګاټه

په ۲ مخ

زنده جان (۸) ماه مسلسل دراتش وخون

۱۲۵ عراده تانه تخریب و۲۰۰۰ ازافراد رژیم به هلاکت رسیده اند

درصفحه ۷

دورانکاروهندوانو دوحشت یوه بله بیلګه

دتران کریم څلور نسخې او ۳۶ متفرقه سپاري سوځول شوي

په ۸ مخ

دکشمیر دازادۍ غوښتونکو مجاهدینو دوه مشران :

دکشمیر دلانجې هیڅ ډول سیاسي حل امکان نلري !

هند باید دروسي امپراطورۍ له سرنوشت څخه عبرت واخلي !

په ۸ مخ کي

الحاج مولوي نظام الدین حقانی دجهاد هنداري له خبریال سره په مرکه کې :

په افغانستان کې به خامخااسلامي حکومت راځي ، داسلامي حکومت له راتلو پرته دلته سوله او امنیت نشي راتلي

په ۳ مخ کي

په فرانسه کی دورځی ۳ تنه ځان وژنی

پاریس :
دیو لړخپروشویو خبرونوله مخی ویل کیږی چی په فرانسه کی په ورځ کی دری تنه د۱۵ څخه تر ۲٤ کلو پوری ځوانان خپل ځان په خپله وژنی .
رپوټ وایی په فرانسه کی په یوه کال کی ٤۰ زره کسه دځان وژنی هڅه کوی چی اکثریت ځوانان پدی هڅو کی کامیابیږی ، دیوه احصایی مطابق په فرانسه کی دځان وژنی واقعات په انګلستان کی له دی ډول واقعاتو څخه دوه چنده زیات دی .
همدارنګه دغه رپوټ زیاتوی چی ٤۰ فیصده ځوانان دځان وژنی په هڅو کی تر ناکامی وروسته په راتلونکی کال کی بیا دی کارته اقدام کوی .
دلویدیزو ټولنو دړوندانه منحط نظام دغه ځوانان دی ډول هڅو ته اړ باسی چی په فرانسه کی تر ترافیکی حادثاتو وروسته دتلفاتو دوهم ریکارډ دځان وژنی هڅو تینګ کړی.

امریکا له فلپاین څخه خپله بحری اډه انتقالوی

سنګاپور ، دجدی ۱٤ مه :
دامریکا جمهور رئیس جارج بش ویلی دی چی امریکا او دجنوب ختیزی اسیا یو هیواد (سنګاپور) به هغه هیواد سنګاپور کی دامریکا دبحری اډی په موجودیت باندی سره متفق شوی دی .
جمهور رئیس بش ویلی دی چی امریکا غواړی چی په راتلونکی کال کی دفلپین څخه خپله بحری اډه سنګاپور ته انتقال کړی بش همدارنګه ویلی دی چی امریکا به ترهغه پوری په سیمه کی دامنیت ساتنه کوی چی دهغی څخه ملاتړ کیږی .

دهند دسیاسی ګوندونو غوښتنه :

جمهور رئیس او صدراعظم باید له سکانو څخه بخښنه وغواړی

په ۸ مخ کي

سرمقاله

جهادي قیادت اودملت په وړاندې یې ستر مسوولیت

نن سبا په سیمه اونړی کی دبدلونونو لړی ډیره په توندی روانه ده ، یو ستر بلاك ونړید ، ډیری جغرافیایی کرښی ماتی شوی اونوی نوی کرښی پکی وکښل شولی ، اروپا چی دامن زانګو ګڼلی کیدله نن دکروشیا په څیر تاوجنه لانجه لري ، د پخوانی شوروی اتحاد جمهوریتونه چی اوس ټول خپلواك هیوادونه دی له یوی نازکی مرحلی څخه تیریږی چی داټول نړیوال کشمکشونه اولانجی زموږ دمومن ملت په برمیال قیام نیغ اثر درلودلی شی او هر څومره چی طاغوتی ځواکونه بل چیرته زیات مصروف اوپه کشمکشونو کی ګیروی هومره زموږ مسلمان ملت ته ښه چانس دی چی زر تر زره دنجیب له نامطلوب رژیم څخه په یوه مردانه ګوزار ځانونه بیغمه او دملت عظیمه قربانی

په ۷ مخ

1991 کال په جنوبی اسیا کی :

دډیموکراسي اوسیاسي ازمېښتونو کال

په ۸ مخ کي

اختلافات بین برما وبنګلدیش افزایش یافته

اطلاعات رسیده حاکیست که مشکلات سرحدي بین بنګلدیش و برما که از چند هفته پیش اغاز یافته بود ، یکبار دیګر افزایش یافته است . خبر مي افزاید طي ٤ روزګذشته تقریباً یك هزار تن ازمسلمانان برمایي مجبور به هجرت به بنګلدیش ګردیده اند . ازجانب دیګر حکومت بنګلدیش قطعات زیادي ازارتش خود را بسوي سرحد برما سوق داده است حکومت بنګلدیش ارتش برما را متهم به ازار و اذیت مسلمانان برمایي نموده است . مهاجرین برمایي مي ګویند که حکومت ان کشور درطي چند روز ګذشته بیش از (۵۰۰۰) تن جوانان مسلمان برمایي را ګرفتار نموده است .

دافغانستان دجهاد اوسني وخت اودعلماوو مسؤلیت

په ۵ مخ

که موږ دجدي شپږمه پر افغانستان باندې دروسانو دیرغل له امله غندو ، باید ددې لپاره یې ولمانځو چې دروسي امپراطورۍ دهوته کیدو ورځ ده

الحاج مولوي جلال الدین «حقاني»

جهاد هنداره
موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

افغانانو «سومنات» مات کړ ، دانګریزانو امپراطوری یې ماته کړه اودادی اوس یې دروسي امپراطوری دماتې او ړنګیدو ویاړ هم وګاټه

پرافغانستان باندی دروسی یرغلګرو پوځونو دبی شرمانه تیری ددیارلسمی کلیزی دغندنی په مناسبت دجدی په ٦ مه نیټه دجنوبی جبهاتو اتل قوماندان الحاج مولانا جلال الدین حقانی دمجاهد غږ راډیو دځپو له لاری یوه عالمانه وینا کړی ده چی دادی دهغی کامل متن درنو لوستونکو ته وړاندی کوو.

الحمد لله رب العالمین ، والصلواة والسلام علی رسوله الکریم اما بعد !

عزتمنو مسلمانانو مهاجرینو او مجاهدینو!

دجدی شپږمه نیټه زموږ په تاریخ کی یو ډیر ننګین او شرمناك باب دی دغه نیټه دروسی لښکرواودسری امپراطوری داخرین یرغل اودغه ظلم اخرین پړاوو ته رسیدلو یو تاریخ هم دی داورځ دوه جهته لری یو جهت دادی چی په افغانستان باندی او دافغانستان په مسلمانانو باندی یو لوی عذاب اودظلم دسمندر یوه څپه راغله اوداهم ویل کیږی چی دروسی امپراطوری له پاره یوه ډیره لویه ساحه ددوی دامپراطوری ترسلطی لاندی راغله خوپه دوهم جهت کی په دقیق نظر لیدل کیږی چی دځو کلونو په تیریدلو سره دروسی امپراطوری دړنګولو لپاره اوددوی دظلم دتغر دتولولو لپاره دایوه ابتدا وه اودظلم پرتیاری باندی داسلام اوعدل رڼا ورځ راوخته اودادی ورځ وه چی افغانی مسلمانانو ته الله (ج) په تاریخ داسلام کی داافتخار ورپه برخه کړ لکه څرنګه چی په تیرو دورونو کی ځو ځو واره الله (ج) دوی ته داافتخار ورپه برخه کړی وو چی دافغانی مسلمانانو په لاس یی دهندوانو دهندوستان بتخانی ماتی شوی دی اویا ددوی په واسطه دانګریزانو امپراطوری ړنګه شوی ده نو دغه یو افتخاردي او په اوسنی تاریخ کی افغانی مسلمانانو ته الله (ج) داافتخار نصیب کړ لکه څرنګه یي چی دانګلیس امپراطوری ړنګه کړی وه اوانګریزانوته یی یو فجیع شکست ورکړی وپه هغه پسی یی دروسی سره امپراطوری ړنګه کړه او روسانو ته یی یو فضیح شکست ورکړ نو په دی جهت چی ګوری شپږم دجدی دظلم نه دخلاصیدو ،غریبو مسلمانانو ته چی دروس په جنوبی جمهوریتونو کي د٦٠ او ٧٠ کلونو په ترڅ کی مستعمره شوی وو اویا ډیرو غریبو ملتونه لکه چکوسلواکیا ،بالتیك هیوادونه ، رومانیا اونورو هیوادونو ته چی روسانو هضم کړی وو دهغوي دازادی ورځ یا دروس دظلم دتغر دټولولو ورځ ده داهم چی دافغانی تاریخ دافتخار دتجدید ورځ دشپږم دجدی نه شروع شوه دروسانو دیرغل په ترڅ کی په افغانستان باندی اوپه مسلمانانو باندی ډیر ظلمونه وشول دمسلمانانو دینی مدرسی او جماتونه اودمسلمانانو شعایر ټول دروسانو دیرغل اویا دهغوي دمزدورانو دیرغل په نتیجه کی پایمال شول اوهم روسانو او ددوی مزدورانو دیرغل په نتیجه کی یو نیم میلیون مسلمانان چی ټوله دینداره طبقه وه علمایا روحانیون سپین ږیری ماشومان بی دفاع خلك ، قوماندانان یا مجاهدین ټول په سنګرونو کی شهیدان شول ، په زرګونو نورو خلکو ددوی دظلم په سبب ددوی دتحمیل کړی جنګ په سبب خپل لاسونه اوپښی اودوجود اعضا له لاسه ورکړل ، په زرګونو مسلمانان په بندیخانو کی لا درکه شول ، په میلیونونو نورو مسلمانانو دوطن څخه هجرت وکړ اوپردیو هیوادونو ته لاړل نودی طرفته که دظلم یوه څپه راغله خوبل طرفته مسلمانانو خپل ځانونه قربان کړل اوخپل ژوند یی له لاسه ورکړ خو دنورو ضعیفو ملتونو دپاره یی ځان سپر او ډال وګرځاوه ، اوخپله قربانی یی ددوی په مخ کی ورکړه او ډیر غریب ملتونه یی دروس دظلم له منګولو څخه خلاص کړل دروسانو دتیري په کال د١٣٥٨ هـ ش کال دجدی شپږمه نیټه وه اواوس د١٣٧٠ هـ ش کال دی اوس موږ وایو په دی دومره زمانه کی څه وشول طبعاً چی دروسانو دمستقیم یرغل ٩ کاله دوام درلود اواوس ټول ١٣ کاله کیږی نو اوس موږ ویلی شو چی دروسی امپراطوری پدی موده کی کوم ځای ته ورسیده مطلب دادی چی هغه روسیه چی ګورباچوف یی رئیس جمهور وو هغه روسی امپراطوری نوره پای ته ورسیده اوس ګورباچوف څوك دیوه جمهوریت مشر هم نه بولی دده نه هغه سپینه روسیه اوکراین چی دروسی غټ غټ جمهوریتونه دی هغه هم ازاد شول او ځان ته مستقل اتحاد جوړوی او دغه دروس نور جمهوریتونه لکه بالتیك هیوادونه دتاجکستان ، ترکمنستان ، اذربائجان قرغزستان ، ارمنستان دی ټولو خپلی ازادی اعلان کړلی او اکثرو دولتونو ددوی ازادی په رسمیت پیژندلی افغانستان اوس دروس سره هم سرحدی نه بلل کیږی دافغانستان هم سرحده اوس دروس جنوبی جمهوریتونه دی نو اوس سړی داویلی شی چی الله (ج) روسان بالکل ختم کړل هغه سلطه اودوی حکومت یی بالکل ختم کړ اوس چی ددوی په ملل متحد کی کومی چوکی دی په هغو باندی یی هم یوه مسابقه روانه ده چی دابه کوم جمهوریت ترلاسه کوی اوددوی چی په خارج کی کوم سفارتونه دی هغه سفارتونه به هم اوس ویشل کیږی شپږم دجدی دیوه جهته دظلم غارت او لوټماری دپیل ورځ وه دبلی وجی ددی په واسطه ډیرو مستضعینو ملتونو ته ازادی حاصله شوی اودافغانستان ملت ته دقربانی اوافتخار یو ځلی کیښودل شو دافغانستان ملت هغه افتخارونه چی مخ کی یی کړی وو هغه تجدید شول او دروس دلویی امپراطوری دړنګولو لپاره الله

دروس دلوي امپراطوري دړنګولو لپاره الله (ج) داملت سبب او منشاء وګرځولو او افغاني مجاهدینو په تشو لاسو خودالله (ج) په توکل او اعتماد دروس قوي پوځ ته ماتي ورکړه

(ج) داملت سبب او منشا وګرځولو اومجاهدینو په تش لاس خودالله (ج) په توکل او اعتماد د روس قوی پوځ ته ماتی ورکړه او په جهان کی رسوا او شرمنده کړه ددوی وحدت یی دنابودی سره مخامخ کړ ددوی دسل کلن معبود لینن مجسمی راچپه شوی اودروسانو له خوا پری لعنت وویل شو هغوی خپله خطایی ومنله ، چی داټول کارونه دمجاهدینو دقربانیو اوددوی سره دالله (ج) دمرستی او ملاتړ په نتیجه کی وشول که چیری یو مسلمان په نن وخت کی ددین خدمت دجهاد په شکل کی وکړی ددی معنی داده چی ترقیامته چی څومره مسلمانان راځی اودآدم له وخته چی څومره مسلمانان

«۷» مخ کي

اسرائیل مانع صلح در شرقمیانه

سمیع الله تازه

اوضاع درمناطق اشغالي شرق بیت المقدس ونوار غزه هنگامي بیشتر متشنج گردید که عساکر اسرائیلي باتیر براحتجاج کننده گان فلسطیني یك تن را کشته وتعدادي را مجروح نمودند . فلسطیني ها براین عمل دولت یهودي اسرائیل احتجاج مي کردند که خواسته است دوازده تن از فلسطیني ها رابه عنوان فعالین فلسطیني هادر مناطق اشغالي از انجاهااخراج نماید .

فلسطیني ها در پاسخ باین عمل ضد تمام مناشیر بین المللي وبشري اسرائیل از اعزام هیات خویش به دور دوم کنفرانس عرب واسرائیل که قرار بود دیروز سه شنبه در ایالات متحده تحت سرپرستي مقامات امریکا از سرگرفته شود خوداري ورزیدند ، بااین اقدام فلسطیني ها یکبار دیگر انظار عمومي جهان به مساله غامض شرقمیانه معطوف گردیده است . مقامات اردن ، سوریه ولبنا نیز بدنبال اعلام التواي اعزام هیات فلسطیني هااعلام داشتند که انها نیز به عنوان حمایت ازفلسطیني ها وتمام حقوق شان وتقبیح اقدام اسرائیل از اعزام هیات هاي شان بواشنگتن خود داري خواهند ورزید .

تعدادزیاد کشورهاي جهان بشمول ایالات متحده ، روسیه چین ، بازار مشترك اروپا این عمل اسرائیل را محکوم نموده وخواهان منسوخ ان شده اند . فلسطیني ها که باردیگرتاحدودي از حمایت کشورهاي عربي برخوردار گردیده اند میخواهند بااستفاده از این فرصت حمایت وسیعتر ي را از سوي کشورهاي جهان و منطقه بدست اورند زیرا بگفته مقامات فلسطیني از سال ۱۹۸۰ تاحال ۹ فیصله مبني بر تقبیح عمل اخراج اجباري فلسطیني ها از سرزمین شان از سوي ملل متحد و مجامع وابسته به آن صدور یافته ولي اسرائیل به هیچیك ان اعتنا نکرده است .

فعلاًفلسطیني ها میخواهند باین موضوع در شوراي امنیت رسید گي شود و باین ترتیب انها فرصت بهتري بدست خواهند اورد تادرجه حمایت ایالات متحده را در برابر اسرائیل از فلسدطیني هارابه ازمایش گذارند . چه عربها وبخصوص فلسطیني ها ارزومند اند ایالات متحده که تاکنون حامي کامل اسرائیل بود درشرایط جدید جهاني بادرنظرداشت حقوق مسلم فلسطیني ها بخاطر داشتن یك سرزمین واواره گي طویل ملت فلسطین و از جانبي هم این معضله یکي از معضلات پیچیده منطقوي تقریباً بیش از چار دهه ادامه یافته است ، بطرز واقعبینانه جهت حل این قضیه فکر کند .

اشتراك فلسطیني ها در کنفرانس عرب واسرائیل و اعتقاد سازمان ازادیبخش فلسطیني بحیث یگانه نماینده مردم فلسطین باین امر که باید به کشاله فلسطیني ها از طریق سیاسي راه جستجو گردد واشنگتن را وادار نموده است تصمیم بیگیرد تا موضوع بطریقي حل گردد که در کنار کسب مصوونیت هاي سیاسي و قانوني به اسرائیل به فلسطیني ها نیز حداقل حقوقي باید قایل بودهیاتهاي عربي در ماه دسامبر نیز که قرار بود دور دوم مذاکرات اعراب و اسرائیل درامریکا دایر گردد به امریکا رفتند اما اسرائیل تحت بهانه جوئیهاي مختلف از اشتراك درین دور خود داري ورزید . درین شرایط که تاریخ برگزاري دومین دور مذاکرات مذکور فرارسیده باز هم اب را گل الود نموده تااز اشتراك در کنفرانس ویا از دایرشدن ان جلوگیري نماید .

باوجود تمام این بهانه جوئیهاي لجوجانه اسرائیل عربها بخصوص فلسطیني ها اعلام نموده اند که پروسه اغاز یافته صلح راترك نخواهند گفت درگذشته فلسطیني ها نظر به شرایط خاص انزمان حاضر نبودند بااسرائیل رودر رومذاکرات شرکت جویند اسرائیلي ها انهارا تروریست ومخالف صلح توجیه مي کردند اکنون که پروسه صلح برهبري ایالات متحده حامي اسرائیل اغاز یافته است اسرائیل باسرپیچي از موازین بین المللي میخواهد امتیازات بیشتري حاصل نمایند فلسطیني ها نیز گفته اند دیگر حاضر نیستند در برابراسرائیلي ها درمیز مذاکره از گذشت بیشتر کار گیرند .

دولت اسرائیل باوجود اعتراضات بین المللي مبني براخراج دوازده فلسطیني اعلام نموده است لازم است تاصدها فلسطیني از سر زمین شان اخراج گردند این امر توهین علني اسرائیل به انظار عمومي وافکار عامه جهان محسوب مي گردد.

اسرائیل امروز بیشرمانه از راهي عقب میرود که تمام جهانیان انرا براي حل قضیه پذیرفته اند اینکه اسرائیل امروز ازاوامرامریکا سرپیچي مي کند بمثابه «خنده بریش بابه » است ان بابای که خود را دیگرحاکم برجهان وناظرنظم نوین جهاني میداند .

په افغانستان کی به خامخا اسلامي حکومت راځي ، داسلامي حکومت له راتلو پرته دلته سوله او امنیت نشي راتلی

پوښتنه : محترم مولوی صاحب ستاسی په نظر په افغانستان کی دجنګ او جګړی دختمیدو اودسولی اوثبات دټینګښت لپاره بنیادی ټکی کوم دی ؟

ځواب : اعوذ بالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم

دجنګ ختمیدل یوه معنی لری اودجهاد ختمیدل بله معنی ، جنګ هغه ته ویل کیږی چی ددوو کسانو په منځ کی اختلاف وی ، دااختلاف یا منطقوی وی ، یا نژادی وی ، یا نصبی اویا دځنی خلکو په منځ کی ددنیوی مسایلو په هکله اختلاف راپیدا شی ، مطلق جنګ داسی وی چی هغه متنازعه فیه شی ختم شی اختلاف له منځه لاړ شی نو جنګ هم ختم شی .

یو جهاد دی جهاد نه ختمیږی اوجهاد به ترهغه وخته پوری روان وی ترڅو پوری چی فتنه اوفساد په مځکه روان وی الله (ج) آمر کړی دی چی تاسی دکفارو په مقابل کی جنګیږی ترهغه وخته پوری چی یوه فتنه هم په دنیا کی پاتی نشی ، یو مشرك هم په دنیا کی پاتی نشی ، یو کافر ، دهری ،زندیق اومرتد پاتی نشی ، نو دافغانستان دخلکو ارام ژوند په هغه وخت کی راتلای شی چی زندیقان ختم شی مرتدین ختم شی ، کفار ورك شی اسلامی حکومت جوړ شی ، اسلامی قوانین نافذ شی اهل حل وعقد کښینی هغوی ته اختیارات ورکړی شی ، اسلامی قوانین نافذ شی نوبیا به جنګ ختم شی اوترڅو پوری چی په افغانستان کی اسلامی قوانین نافذ شوی نه وی اسلامی حکومت داهل حل دعقد اودعلماوو دنظریی مطابق جوړ شوی نه وی داجنګ به دوام لری اوجنګ به هغه وخت کراریږی چی فتنه ورکه شی ، دین دخدای لپاره شی او امانتونه (عهدی) اهل ته وسپارلی شی .

زموږ مجاهدینو دباطل په مقابل کی جهاد شروع کړی دی ، اودهر باطل مقابله به کوی ترڅو پوری چی باطل ورك شوی نه وی ، حق ثابت شوی نه وی داجها به دلته په افغانستان کی جاری وی ، چی دلته ختم شی نوبیا به له بل کافر سره جهاد جاری وی ، پیغمبر (ص) وایی (الجهاد ماض الی یوم القیامة) جهاد ختمیږی نه ، خوپه افغانستان کی به سوله او ارامی ترهغه وخته استقرار ونه مومی چی ټول کفار او زندیقان ختم شوی نه وی ، اویو اسلامی حکومت هلته راغلی نه وی .

تنظیمونه هغو ته وایي چي څه اصول اومقررات ولري ، دیوه قوت په چوکاټ کي خلك رهبري کړي ، اومنظم رهبران یی وي

پوښتنه : دامعلومه خبره ده چی که زموږ جهادی تنظیمونه له نفاق او پراکسیون بازیو څخه ډډه وکړی ، په ډیر کم وخت کی به دکابل مزدور رژیم له منځه لاړ شی ، که دغه ډول بی اتفاقی اوپراکسیون بازی دوام وکړی ، دملت سرنوشت به څه وی ؟

ځواب : داتنظیمونه چی اوس جوړ شوی دومره منظم تنظیمونه ندی ، داهریو خپل شخصی نظریات پالی ، تنظیم هغه ته وایی چی څه اصول او مقررات ولری ، دیوه قوت په چوکاټ کی خلك رهبری کړی ، او هغه منظم رهبران وی ، چاچی تعهد ورسره کړی وی دهغی پالنه په سمه طریقه شوی وی داسلامی اصولو په چوکاټ کی روان وی متاسفانه زموږ دغه تنظیمونه ډیر نواقص لری چی دخدایه یی درفع کولو امید واریو

دافغانستان دخلکو ارام ژوند په هغه وخت کي راتلاي شي چي ملحدین او مرتدین ختم شي ، کفارورك شي ، اواسلامي قوانین په افغانستان کي نافذ شي

پوښتنه : ستاسی په نظر دافغانستان داوسنی کشالی وروستنی نتیجه به څه وی؟

ځواب : مجاهدین که په خپلو نظریاتو ودریږی ، خپله وظیفه وپیژنی ، خپل جهاد پری نږدی ، نوافغانستان به حتماً ازادیږی ، اودا ازادی به دمجاهدینو په لاس وی مجاهدین قوماندانان او اهل حل عقد کسان به دافغانستان دراتلونکی خکومت په هکله تصمیم ونیسي . پدی توګه به هلته اسلامی حکومت جوړیږی ، دغه څه ملی ځلی چی روانی دی دملل متحد یادروسانو ، امریکا او پاکستان او ځینی رهبرانو ترمنځ چی کومی خبری کیږی اوکوم نظام چی هغوی جوړوی هغه زموږ مجاهدینو لپاره دمنلووړ ندی اوهیڅ څوك نشی کولای چی پر افغانستان داسی نظام تحمیل کړی تحمیلی نظام همدا اوس دنجیب هم دی .

په افغانستان کی به خامخا اسلامی حکومت راځی اودا اسلامی حکومت به دمجاهدینو په لاس جوړیږی ، داسلامی حکومت له راتلو پرته په هیڅ ډول سوله او امنیت نشی راتلای .

دافغانستان ازادي به دمجاهدینو په لاس وي مجاهدین قوماندانان او اهل حل وعقد به راټولیږي اودافغانستان دراتلونکي حکومت په هکله به تصمیم نیسي او په دي توګه به هلته اسلامي حکومت جوړیږي

داسلامي نړۍ پربرخلیك دافغان جهاد اغیزی

له بهرنیو منابعو څخه :

ژباړن : سید شهریار

تراوسه لاډیره موده نه ده تیره شوی څلور کاله وړاندی دامریکا پخوانی جمهور رئیس ریګن دافغانی مجاهدینو داتحاد دوینلوی مولوی محمد یونس خالص سره په لیدنه کتنه کی وویل : افغان قوم دقهرمانانو قوم دی !

دامریکا دپخوانی جمهور رئیس ریګن دی خبرو ته ځیر شی په هرقوم کی څو قهرمانان دی خو چی کله ټول قوم ته دقهرمانانو قوم ویل کیږی داپه ډاګه کوی چی دامریکا په وړاندی دافغانی قوم حیثیت په غیر معمولی ډول لوړ تللی وو.

ولی همدا پخوانی جمهور رئیس چی کله دمجاهدینو دلیدنی کتنی وروسته د۱۹۸۷ کال ددسمبر په میاشت کی په واشنګټن کی دګورباچوف سره دخپل ملاقات په دوران کی یوه ګډ توافق ته رسی نو بیا افغانان او دافغانانو قهرمانی له یاده باسی .

له دی وروسته غربیانو دهمغه ولس پسی زهرجن تبلیغات پیل کړل دکوم دهری خبری اوهری کارنامی تعریفونه چی به یی کول دافغانانو هغه عادتونه او کارنامی چی دوی به نړۍ ته دحماسو او ویاړونو په توګه وړاندی کولی نن یی دورانکاریو خرابیو او نیمګړتیاوو په ډول بیانوی اوهم یی دجهاد جذبه داقتدار هوس ګڼی .

دافغانانو سره محبت لرونکی پاکستانیانو افغانی مشران دنړۍ دبدلیدونکی حالت څخه خبر کړل ورته وییی ویل چی په دسمبر ۱۹۷۹ کی چی کله روسانو په افغانستان بریند تیری وکړ نو روس دنړۍ واحد زبر ځواك و حال داچی امریکایی په مقابل کی دپوځی او اقتصادی لحاظ ډیره کمزوری وه په هغه وخت کی دامریکا داحال ؤ چی په ٤ نومبر ۱۹۷۹ نیټه یی دایرانی محصلینو لخوا په تهران کی دسفارتخانی مامورین یرغمال وګرځیدل دغه وخت امریکا دومره ذلیله وه چی صرف دخولی احتجاجونه یی کول دغه وخت نړیوالو ته ښه په ډاګه وه چی روسان دخلیج په تیلو خیټه اچول غواړی او ربښتیا هم دروسانو داقتصادی اوسیاسی پاینبت یواځینی لار دخلیج په تیلو کنترول حاصلول ؤ اوداځکه چی دامریکا سره په ۳۲ کلن پټ جنګ کی روس داقتصادی لحاظه دپښنو غورزیدلی ؤ روسانو دخپل ځان دبقا لپاره همدا یوه لار لیده چی دخلیج په تیلو کنترول حاصل کړی او اروپا اوجاپان ترخپلی سلطی لاندی راولی نو همدا وجه وه چی په افغانستان یی خپل عسکر راوخیژول غربی هیوادونو ته دروس ددغه مجبوریت معلومات ؤ ځکه داکتر هنری کسنجر په ۱۸ اپریل ۱۹۸۰ نیټه په واشنګټن کی دغه راز افشا کړ اوویی ویل چی دپنځو کالو په موده کی به روسان له داخلی مسائلو او مشکلاتو څخه دومره په تنګ شی چی دپوځی لاری نیولو پر ځای به دخبرو اترو لار ونیسی .

روسان په دی وخت کی له سخت تشویش سره مخامخ شول او دایی درك کړه که چیری داسی وشول یو خوبه مو ختیځه اروپا له لاسه وځي اوبل به په منځنی اسیا کی دازادی غورځنګونه پیل شي

خو کله چی روسان په افغانستان راننوتل هغه وخت دغربیانو سره صرف دایو سوال ؤ چی ایا افغانان او پاکستان به دپنځو کالو پوری دروسانو مقابله وکړای شی ؟ غربیانو ته معلومه وه لکه څنګه چی مو وویل که چیری پنځه کاله دروسانو مخه ونیول شوه نو روسان به پخپل کور کی له دومره ستونزورو حالاتو سره مخامخ شی چی پخپله به دافغانستان څخه په شا شی خو داهیچا هم نه ویل چی ګوندی افغانان او پاکستان به دومره زیاته موده دروسي چپاوونه په شا وتمبوی همدا وجه وه چی غرب دروس سره دیو لاس کیدو په فکر کی شو ددغه یو لاس کیدو په نتیجه کی روسان بیا هم دخلیج تیلو او دهند بحر ته رسیدلی شول ولی افغانانو دحالاتو مخ په بله واړاوه اودخپل بی ساری مقاومت او قربانیو په وسیله یی په وینو اوغوښو دوسپنو او بارودو مقابله وکړه څنګه چی وویل شول دروسانو سره پنځه کاله وخت و دهر څه او دهرچا مقابله یی کولی شوه نو ځکه یی دافغانستان ګټه او لوټه دافغانانو په وینو ولمبوله ، په لکوو افغانان یی شهیدان او ټپیان کړل په لکونو پاکستان او ایران ته په پنا راوړلو مجبور شول په ټول افغانستان بمونه ووریدل ولی بیا هم تش لاسی افغانانو دروس په مقابل کی دتسلیمی سر ښکته نکړ کله چی روس پنځه کاله دبی ګناه افغانانو وینی وبهیولی نو دهنری کسنجر دپیشګویی درښتیا کیدو وخت را رسیدلی ؤ دروس اقتصادی او سیاسی فضا دومره ګردجنه شوی وه چی خپل مشر تابه اوخپل پلی کړی پلانونه یی ددا سی خلکو په لاس کی ورکړل چی هغوی مسایل دپوځی لاری پر ځای نه بلکه دخبرو اترو په ذریعه هوارول غوښتل دایوه

۶ مخ کې

جهادي ادب

سري وي تکي سپـيني وي چـي تـوبي شوي
مـرگ زمـوره دمـړيني وي چي توبـي شوي
ولاړي ځـمکي وخـوړي او ورکي شـوي
اوښـکـي وي او وينـي وي چـي توبي شوي

دفنا لاروی !

شفیقي

دستمگر انسان له ذهنه راوتلی قانون
چی دانسان دښکیلولو په خاطر جوړیږی
چی انگیزه یی حیوانی ده !
شیطانی هوس دی !
مادی احساس یی ړندی کړی دشعور سترگی !
چی دمعنی له ارځښتونو ناخبره انسان
دخپل نفسی سکون لپاره زیرولی مور ته
چالکه مارکس دوړی خیتی دتسکین له پاره
اوچادخپل نفسی جنون دمرولو په نیت
څه اوتی بوتی گډی وډی دی له خولی شیندلی
ترڅو دداسی بی باوره بی پایښته دستور !
پر ځای دخدای (ج) داسمانی قانون قیام رانشی
ترڅو بشر له خپل فطرت سره
همگام چی نشی
ترڅو دحق دسپین مشعل !
په سپینو سپینو ورانگو !
دجهالت دتروږمیو زرونه ونهٔ چوی !
پردی جهان !
دبدبختیو ختمیدل نشته دی
توری تیاری به لا توریږی !
رونیدلی نشی
له خپل فطرته مخالف قدم !
فنا ته درومی
تحت ثراته درومی !
اوبیا دفنا لاروی !
بقا ته رسیدلی نشی !
په مرگ محکوم دی !
دخلاصون لاره موندلی نشی !

جهاد

نخښی په کی بریښی دجهاد لمر راختلی دی
ښاد به مو وطن شی دکوم لوری راوتلی دی
رڼاچی دجهاد موپه وطن خوره وره شوله
دښمن دتینگی ندی چی په کوم اړخ پرزیدلی دی
هرغړی دجهاد داسمان ستوری ښکاری موږ ته
په ځمکه اوس اوسیږی په اسمان کی ځای نیولی دی
توره چی کړه هسکه اوپه دښمن یی برید شروع کړلو
نوردالٰهی یی په سپین مخ کی ځلیدلی دی
مینه دوطن ده دنیا یی تولہ ترك وهلی ده
توره یی افغانی ده غټ دښمن یی ځملولی دی
اسلامی جنډی یی چی لوړی په نړی کی کړی
داعظیم انسان چی دخپل دین په نوم وتلی دی
نوم دجهاد خور دی رنگارنگ خوندونه شته په کی
دانعمت افغان ته لایزال را استولی دی

دعاصم ثمرخیلی لیکنه

ننگیالي او خاطری یې

ترخوله یی یو سوړ اسویلی ووزی ، دسترگو په کاس کی یی داوښکو ملغلری وځلیږی په تندی یی کړی وړی کرښی جوړی شی دپریشانی گونځی دمایوسی کر ښنی او زور ورخفگان ځیره یی تولہ ماتم ماتم شی ، درد شی ، رنځ شی ، ویرشی ، سانـدی شـی ، ژړا شـی ، فریاد شی ...

اوچی هـر څوك ورتـه وگـوری نـو ورسـره غـمجـن شی پریشانه شی او دویر او ماتم په تغر ورسره شریك شی .

هڅ ور ځوان دی ، پراخ تندی ، ځلاندی سترگی او غوښنو ، بلن خو یوه پښه یی نشته ، نور هغه نیمگړی دی نور هغه دنورو محتاج ښکاری ...

خو کله چی په خبرو راشی ، بیا نویی مخاطب خامخا دحیرت په بحر کی ډوبیږی ، دهغه اندیښنه په نیم سیر غوښو او هډوکو نه دی دهغه غم او ویر دیوی پښی په غوڅیدو او دایمی معیوبیدو نه دی ، له هغه سره اوس هم دیوه برمیال ملت دراتلونکی غم دی ، دیوه امت دبرخلیك په باب اندیښنه ده څومره ستر انسان دی وگوری همت ته یی ، وگوری دایثار اوقربانی غونی ته ! او همدغسی اتلان وو چی یوه شیطانی امپراطوری یی دړی وړی کړه ځان راپیژنی :

سید انور دمحمد اواس زوی دځاځی میدان ولسوالی دحسن خیلو اوسیدونکی اودمولوی میرداد دجبهی مجاهد یم...

دوه کاله مخکی مو دتور غره په خړسردعملیاتو پروگرام درلود دوراندی تگ په بهیر کی ناڅاپی دیوه ماین دچاودیدو لـه املـه زما یوه پښه غوڅه او نور بدن می سخت تپی شو

دنور څلی

تولوونکی : پردیس

داسلام لومړی خلیفه درسول الله (ص) همیشنی ملگری حضرت ابوبکر صدیق (رض) درسول الله "ص" له رحلت څخه وروسته دمسلمانانو لومړی خلیفه وټاکل شو .

اوله دوو کالو وروسته په ۱۳ هـ ش کال دجمادی الثانی په ۲۲ مه ددوشنبی په ورځ دعمر په ۶۳ کلنی له خپل حقیقی خالق سره یو ځای شو .

***

حضرت ابوبکر صدیق (رض) چی خلیفه وټاکل شو نو لومړی حکم یی داسلامی قلمرو دساتنی لپاره دهغه لښکر استول وو چی ددواړو جهانونو سردار حضرت رسول الله (ص) دشام لپاره دحضرت اسامه (رض) په مشری ټاکلی ؤ له مدینی منوری نه دلښکر دروانیدو په وخت کی حضرت صدیق رضی الله عنه هغوی ته داسی هدایات وفرمایل :

* خیانت مه کوی
*وعده خلافی مه کوی
*غلامه کوی
* له مریو نه اعضاوی مه پری کوی .
* ماشومان – بوډاگان او تور سری مه وژنی .
* دخرماونی مه غوځوی او مه یی سوځوی .
* میوه لرونکی ونی مه غوځوی .
* پسونه ، غواگانی او اوښان له خپل مصرف څخه زیات مه حلالوی .
* کـه پـه داسـی خلکو ورپیښ شـوی چی پـه کلیسـاو او عبادتخانو کی پراته او ځانونه یی عبادت ته وقف کړی وو هغوی ته څه مه وایاست .
* کله که چاپه ډیرو لوښو کی خواړه درته راوړل دخوراك په وخت کی دالله نوم مه هیروی .
* ځـانونـه دالـلـه پـه نـامـه وسـاتـی « لـه الـلـه (ج) دسـاتـنـی دعاوغواړی»

او خدای (ج) دی تاسو له وباٲوماتی نه وساتی .

***

* کوم قـوم چـی جـهـاد تـرك کـړی اللـه (ج) پر هـغـوی ذلت اوخواری مسلطوی .
* په کوم قوم کی چی بی حیایی زیاته شی الله (ج) به بلاوی وربانـدی نازلی کړی .
* چی سړی شرم ولری نو ښه دی او چی ښځه یی ولری ډیره ښه وی .
* جهاد یوه ضروری فریضـه ده چی دثواب اتکل یی له امکان نه وتلی .
* نیك عمل چی هرڅوك وکړی ښه دی ، خو چی کوم امیر یی وکړی ډیر ښه دی .
* دځوان گناه بده ده خو دبوډا ډیره بده ده .
* ژبه له شکایت نه وتړه دخوښی ژوند به دی په برخه شی.
* هغه خلك ډیر غوره دی چی دنیا اواخرت دواړه حاصلوی
* شریف دعلم په حاصلولو متواضع ، او ذلیل کبرجن شی
* رښتینولی او ښیگڼه په جنت کی ده او دروغ او بدی په دوزخ کی .
* یو له بله اړیکی مه غوځوی ، کینه مه کوی او یو له بله ورونه اوسی .

تکل

داگولی !... دکوم ټوپك له شپیلی ؟!!

پردیس

هر ځل چی دهغه کیسه دغه تکی ته راورسوم نو قلم می ځای پر ځای ونښلی ، گوتی مـی شـخـی شـی ، ذهـن مـی داسی په ټپه ودریږی لکه په کمپیوټر چی بریښنا بنده شی مایو ځل هم دهغه کیسه ترپایه ونشوای لیکلی ، هر ځل همداسی کانه رابانـدی کیږی هـر ځـل مـی یوه نـه لیدونکی قوه دارادی مرکز فلج کړی ، او هر ځل دهـغـه دژونـد کیسـه هـمـدغـسـی ناتمامه پاتی وی .

دژوند په هره برخه یی قلم څـوځـولـی شـم دشـهـامـت اوشجاعت داستانونه خویی پای نه لری دتقوا او دیانت په باب یی کتابونه ډکولی شم ، بس هر څه لیکلی شم دهغه دژوند هره گوښه او هره حادثه دقلم په ژبه دتاریخ پاڼو ته سپارلی شم ، دهیواد ډیری هسکی تیتی یی پر شهامت گـواهـی ورکـوی ، ډیـرو گرنگونو او مورچلونو یی دتکبیر ملکوتی چیغی اوریدلی دی ، داسمان پر تندی خورو ورو دستورو پنډو قافلو یی په ډیرو تورو شپو کی شوکیری او دعاجزی سجدی لیدلی او زما قلم هم دهغه په یادونو او کـارنـامـو ښـه پـه خـوښـی راڅرخی خو چی دهغه ژوند له خپل کلی نه بهر دسمسور فصل په منځ کی دهغی لویی ویالی تر غاړی پوری تعقیب کـړم نـور مـی قـلـم ځـواب راکړی وی لکه دزړه وینی یی چی وچی شـوی وی ، یایی سیاهی اورنگ دهغه له بدن نـه دراخوټکـیدلـووینـونـه شرمـیږی اوپـټـیږی ، هـغـه دلویی ویالی په غاړه لویدلی دی شـونـډی یـی خوځـیږی مبارکه کلمه ورلوی ، دخدای (ج) کلام یی په خوله جاری دی اوبیا همدلته په ابدی خوب ویده کیږی خو نور زما دقلم له نوك نه دزړه وینی نه راوزی .

لکه دهغه په زورو ر ماتم یې احتجاج کړی وی اویالکه چی دظلم اواستبداد پرضد داعتراض په دود نور مرور وی .

دافغانستان دجهاد اوسنی وخت اود علماوو مسؤلیت

لږ څه کم دیارلس کاله کیږی چی دافغانستان اسلامی اوافغانی مجاهدین په مسلح جهاد لګیا دی چی په افغانستان کی دروسانو اودوی دمزدورانو او ګوډاګیانو په مقابل کی مسلح جهاد روان دی او اوس چی دالله تعالی په فضل سره دغه اسلامی جهاد کامیاب دی او افغانی مجاهدین دبریالیتوب په درشل کی ولاړ دی ، ډیره نیژدی ده چی افغانی مجاهدین په افغانستان کی دیو اسلامی حکومت په جوړولو موفق شی نو ځکه دشرق او غرب کافران اوداسلام دښمنان وارخطا پلاس جوړ کړی حکومت راشی او حال داچی روسانو په افغانستان کی نه کاله داسلامی مجاهدینو سره جنګونه وکړل اوبالاخره دماتی سره مخامخ شول ، دنیا ته رسوا شول وشرمیدل چی په نتیجه کی دکمونستانو او روسانو قوت مات شو چی اوس روسان یواځی دخپلو جنګی بندیانو دخلاصون په فکر کی دی مګر ددی ټولو خبرو سره دښمن دښمن دی هیڅلکه دښمن نه پخلا کیږی دارنګه فتوي ګانی صادره وی او دکومو تنظیمونو څخه تنخواه ګانی اخلی ، دواړه ډوله علمائچی خپلی فتوی ګانی صادری کړی دی نوپه اخبارونو او جرائیدو کیٔ نشر کړی دی او دستخطونه یی ورباندی کړی دی ، چی ټول دنیا ته وښودل شی چی دافغانستان عالمان داسی بی ثباته انسانان دی چی دزرو روپو تنخواه له کبله یی شرعی حکم دپښو لاندی کړ او حال دادی چی حق خو یو دی او دالله تعالی قران مجید فرمایی (چاچی دالله تعالی په نازل شوی کتاب حکم ونه کړ ظالم ، فاسق او کافر ګڼل ګیږی)

محترمو علماوو کرامو راشی ددی زرو روپو تنخواه فکر پریږدی او ددی تنظیمی حزبی او دتجزیوی فکرونو څخه ځانونه راوباسی او حق ته نظر وکړی کوم چی حق وی په هغی باندی روان شی اودغه دتنظیمونو دغلامی کړی دخپلو غاړو څخه ایسته وغورځوی تاسو داسلامی شریعت له مخی خورا ډیر لوی مسوولیت په غاړه لری تاسی دالله تعالی واقعی او دغه مقدس او سپیڅلی اسلامی جهاد په افغانستان کی دلومړی ځل لپاره دافغانستان علماو شروع کړی دی ، ددی جهاد په پیل کی دافغانستان ډیر لوی لوی عالمان او روحانیون شهیدان شوی دی او همدغه تاسو عالمان یاست چی دخلقیانو ، پرچمیانو او روسانو په مقابل کی مو جهاد وکړ او دخلقیانو او پرچمیانو دتکفیر حکم مو صادر کړ ، او ستاسی دفتوی ورکولو په برکت په افغانستان کی اسلامی جهاد شروع شو ، چی دافغانستان عامو مسلمانانو په ډیر شجاعت او میړانه سره خپل سرونه قربان کړل ښځی یی کونډی شوی ، بچیان یی یتیمان شول ، کورونه یی وران ویجاړ شول دګران او عزیز وطن څخه وشړل شول ، په ټوله دنیا کی خواره شول ، مسافر او بی کوره شول ، چی په بی شمیره کیمپونو کی په دښتو میرو کی په لوږه تنده او تنګسو کی خپل عمر تیروی او هره ورځ په جهاد کی په افغانستان کی بی شمیره خلك شهیدان کیږی دکفارو او ظالمانو لخوا نیول کیږی ، په جیلونو زندانونو او محبسونو کی شکنجه کیږی ، چی همدا اوس هم په افغانستان کی

> اي دافغانستان ديني علماوو ! ددغه شهیدانو دیتیمانو ، کونډو اوبي وزلو مهاجرینو سترګي یواځي ستاسي په لور دي ، اوداسي وایي چي بل څوك که زموږ غم نه خوري دغه عالمان به مو ضرورغم خوري ، ځکه په افغانستان کي اسلامي جهاد دوي شروع کړي

دی نه غواړی چی په افغانستان کی یو واقعی اسلامی حکومت راشی له همدی کبله اسلام دښمنه خلك که دشرق ملحدان دی او که دغرب مشرکان دی ټول سره یو لاس شوی دی اودافغانستان دمقدس او اسلامی جهاد په هکله یی یو دریز اختیار کړی غواړی چی دغه اسلامی مقدس جهاد دخاورو سره خاوری کړی اوپدی توګه زموږ دیونیم ملیون څخه زیاتو شهیدانو وینی ضایع کړی ، نو ټول ټول مکرونه او ټول ټول هیلی یی منځ ته راوستی دی اوپدی توګه غواړی چی ددغه اسلامی مسلح جهاد مخه ونیسی او کله دصلحی په نامه پروګرامونه جوړه وی او کله دجهادی تنظیمونو تر منځ اختلافات رامنځ ته کوی چی پدی اړه څه موده دمخهٔ یوه بله موضوع رامنځ ته کړه چی دجهادی تنظیمونو دمشرانو دیو هیات تلل دمسکو په لور وو او هلته دروسانو سره کتل او کیناستل داخو ډیره دتعجب وړ خبره ده چی څنګه به روسان پدی راضی شی اوپدی به قاطعه رایه ورکړی چی په افغانستان کی دی واقعی اسلامی حکومت او بالخاصه دافغانی مجاهدینو ، زما په فکر سره داهم دشرق او غرب کافرانو لخوا ډیوه دسیسه او مکر دی چی مجاهدینو ته دوکه ورکړی ګوندی چی دجهاد په موضوع خبری روانی دی ، سوله کیږی نو جهاد دی معطل پاتی شی ، او مجاهدین پدی او هغی باندی وغولوی سره لدی هم تنظیمی مشرانو دغه خبره داسلامی علماو فتوی ته وغورځوله ، علماوو پدی باره کی فکر او سنجش ونکړ سمدلاسه دوه ډلی شوی ، یوی ډلی فتوی صادره کړه چی دجهادی تنظیمونو دمشرانو هیات تلل مسکو ته شرعی دی او داسلام په خیر تمامیږی او ددی پرضد بلی ډلی فتوی صادره کړه چی داکار شرعی ندی اوداسلام او دجهاد په ضرر تمامیږی ، دفارسی یو متل دی (یك بام ودوهوا) اسلام یو اسلام دی قران یو قران دی ، څرنګه کیدای شی چی دغه علما دی دوه ډلی شی او هره ډله دی یو دبل په ضد اومخالفت نظریه ورکوی که پدی موضوع ښه غور وشی نو دابه څرګنده شی چی کوم علما دی چی پدی باره کی نظر ورکوی او په کوموکومو تنظیمونو او حزبونو کی دی اودچا دخوشحالی لپاره

> دافغانستان دعلماوو لپاره یوه واحده اداره په کار ده چي یو مرکزیت ولري هلته راټول شي ، یوه واحده شورا ولري او په هره موضوع کي چي وغواړي خپلي فتواګاني صادري کړي

حقیقی خلیفه ګان یاست تاسی دالله تعالی دقرانکریم اودرسول الله صلی الله علیه وسلم دمبارکو احادیثو تعبیر کوونکی او تفسیر کوونکی یاست مفسرین دالله تعالی په نزد ډیر محترم معنذ او لوړ مقام لری تاسی دالله تعالی دشریعت جاری کوونکی او نافذ کوونکی یاست تاسی دحضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دامت پاخه او مضبوط رهبران یاست تاسی داسلامی شریعت له مخی داخر زمانی پیغبمر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خلیفه ګان او جانشینان او وارثان یاست دروسانو دظلم او بربریت بمونه وریږی ، او زرګونه خلك شهیدان کیږی په هره ورځ دنجیب مزدور لخوا په بمونو سکډ میزائیلو باندی دخاور او وینو سره لت پت کیږی .

ای دافغانستان اسلامی اودینی عالمانو ددغه شهیدانو دیتیمانو کونډو او بی وزلو مهاجرینو او مجاهدینو سترګی یواځی ستاسی په لور دی او داسی وایی چی بل څوك که زموږ غم نه خوری نو دافغانستان اسلامی او دینی عالمان ضرور به زموږ غم خوری ځکه چی په افغانستان کی

۶ مخ کې

دنور په لور

زه ولی مسلمان شوم ؟

داکترحمید مارکوس «جرمنی» .

داکتر حمید مارکوس دیوه ساینس پوه لیکوال او ژورنالیست په نامه په جرمنی کی دځانګړی شهرت خاوند دی ، نوموړی دمشهوری جرمنی جریدی «مسلم ریویو» مسول مدیر هم پاتی شوی دی .

***

دازه نشم ویلی چی ولی خوله پخوانه می داسلام پیژندنی هیله په زړه کی موجوده وه نو ځکه می له نوری مطالعی سره یو ځای دقران دقیقه مطالعه هم پیل کړه دقران نوموړی ټوك « دقران ترجمه » په ۱۷۵۰ م کال کی چاپ شوی و او زموږ دپلرنی کلی په کتابخانه کی وه ، داهمغه ټوك ؤ چی دجرمنی مشهور مفکر «ګویته » داسلام په باب معلومات ورڅخه حاصل کړی وو.

ماچی داولیدل حیرانی واخیستم او زیات خوښ هم شوم چی دقران په اړه داسلام نظریی ټولی دمنطق اواستدلال پربنسټ ولاړی وی اوبیا اسلامی تعلیمات دخپل مزاج له رویه له فطرت سره هماهنګ هم دی او تر ډیره حده له رعب او جلال نه ډك هم . زه له دی خبری نه هم ډیر تر اغیزی لاندی راغلم چی اسلام په خپلو پیروانو کی یو زوروړ روحانی او ټولنیز انقلاب راوست چی دالړی دمسلمانانو دسهوو اوخطاو سره سره تر ننه پوری دوام لری .

دازما ډیره نیکمرغی وه چی په همدغو ورځو کی په جرمنی کی له مسلمانانو سره زما داوسیلو او ملاقات زمینه برابره شوه اودوی له خوی او عادت نه ډیر تر تاثیر لاندی راغلم .

له دی سره دبرلن جومات له موسس اودجرمنیٔ دمسلم مشن له بنسټګر سره زما پیژندګلوی وشوه اودهغه د تفسیر په درسونو کی می ګډون کاوه ، زه پردی اعتراف کوم چی څوکاله مادغه غیر عادی انسان له نژدی نه ښه په ځیر مطالعه کړ دهغه روحانی سپیڅلتیا اوجسمی عبادت او مجاهدی زما دزړه دنیا بدله کړه اوبیا می دهمغه په لاس داسلام مبارك دین قبول کړ.

داسلام له قبلولو اودخپل نوی مذهب دژوری څیړنی نه ماته له حد نه زیاته خوښی ځکه راپیداشوه چی له فکر او مطالعی نه وروسته چی زه دانسان په باب دکوم نظر اوعقیدی خاوند وم اسلام دهغو عقیدی په ښه توګه تکمیل راوښود ، ماته دی حقیقت هم معنوی خوښی راپه برخه کړی چی اسلام پر خدای (ج) عقیده یو بنیادی اصل ګڼی او داسی کوم دعوه یی نه ده کړی چی ننی عصری ساینس او تجربه یی غلطه ثابته کړی ، ځکه خو داسلامی نظریاتو اوننی عصری ساینس تجربو تر منځ هیڅ ټکر نه دی راغلی ، داحقیقت ماغوندی خلکو ته یو لازوال نعمت و ځکه زه ساینس پوه وم اودساینس پلټنو لیوال .

دننی عصر دانسان لپاره هم داسلام دغه اړخ دډیر ارځښت وړدی چی اسلام دژوندانه په ټولو اړخونو کی کوم له عقل او تدبر نه لری چلن نه لری ، اودغه مذهب دژوند له کاروان سره اوږه په اوږه پرمخ روان دی او چی څومره انسانان متمدن شی اسلام پکی دتطبیق وړ اوغوښتنو ته یی پوره ځواب وایی ، اسلام په روا انسانی ازادی پابندی نه لګوی ، اوداسی قوانین لری چی دانسان شرف ، وقار او عزت زیاتوی .

له کلونو کلونو راسی زه دغه حقیقت ګورم چی اسلام دتوازن اوتناسب یوښکلی امتزاج دی ، دادین دفرد ساتنه او احترام هم کوی اودټولنی له غوښتنو اوتقاضا څخه هم سترګی نه پټیوی ، دلته دتعصب هیڅ درك نشته او درواداری هغه لوړ ځلی دروی چی چیرته هم څه دنیکی څرك شته په اسلام کی شته ، اواسلام دهری نیکی اجازه ورکوی .

داسلامي نړۍ پر بر خليك دافغان جهاد ...

عجیبه اتفاق ؤ څنګه چی کسنجرپه ۱۹۸۰ کی ویلی ؤ همغسی وشول په ۱۹۸۵ کال واك ګورباچوف ته وسپارل شو.

امریکا چی کله په شوروی اتحاد کی دغه بدلونونه ولیدل نو افغانانو ته یی دخپلو عصری نویو وسلو ورکولو پریکړه وکړه حال داچی له دی مخکی دامریکا پالیسی داوه چی دمصر او ځنی نورو هیوادو څخه په محدود مقدار کی روسی وسلی واخلی ، او مجاهدینو ته یی ورکړی داځکه چی امریکا سره دا ویره وه که چیری سمدستی خپلی نوی وسلی افغانانو ته ورکړم نو روسان به دپنځوکالو څخه مخکی په شاتګ ته مجبور شی نو ځکه افغانان په بی کارو او زړو وسلو دروسانو سره جنګیدل. کله چی په ۱۹۸٦ کی امریکا افغانانو ته دخپلو عصری وسلو ورکولو لړی پیل کړه نودافغانستان په جنګی فضاکی لوی بدلون رامنځ ته شو دروسی هلیکوپترو لپاره دامریکا ستنګر توغوندی دمرګ پیغام وګرځید اودجنګ تله دافغانانو پلو ته درنه شوه ، په جولای ۱۹۸۷ کی روسانو اعتراف وکړ چی په جنګ کی افغانی مجاهدین مخ په وړاندی روان دی ، اوورسره داسی اوازی هم خوری شوی چی مجاهدین به ډیر زر افغانستان بیرته یو ازاد اوخپلواك هیواد وګرځوی روسان په دی وخت کی له تشویش سره مخامخ شول او دایی درك کړه که چیرته داسی وشول ، یوخوبه مو ختیځه اروپاله لاسه ووځی اوبل به په منځنی اسیا کی دازادی غورځنګونه پیل شی نو ځکه یی په دسمبر ۱۹۸۷ کی دامریکا په وړاندی دتسلیم سر ښکته کړ اودامریکا سره په یوه لار دتګ وعده یی ورکړه .

دامریکا او روس له یو موټی کیدو وروسته چی کله روسانو دافغانستان څخه دوتلو اعلان وکړ نو پاکستان او هند دواړه له سخت تشویش سره مخامخ شول پاکستان دغه عمل دخپل ځان سره دامریکا غداری وبلله ځکه چی دپاکستان سره دسلا مشوری په غیر دغه کار ترسره شوی ؤ بلی خواته دهند دپریشانی او تشویش وجه دافغانستان څخه دروسانو وتل اوبیا هلته دیوه اسلامی دولت منځ ته راتلل دهند په نظر داسیا لپاره لوی خطر ؤ نو ځکه یی په کابل کی دنجیب رژیم پایښت دهند دسلامتیا لپاره ضروری وګانه.

دایو حقیقت دی او راقم الحروف پخپله شاهدی که چیری دجلال اباد په جګړه کی هندی پیلوټان اوبی شمیره توپچیان نه وای نو دجلال اباد ښاربه په ډیره اسانی دمجاهدینو په لاس فتحه شوی ؤ اودجلال اباد دفتحه کیدو وروسته کابل پخپله دمجاهدینو لاس ته ورتلو دجلال اباد په جګړه کی دهند دمداخلت په باره کی چی ماڅه وویل پخپله حکمتیار صاحب او حاجی دین محمد هم ددی تصدیق کړی دی له دی وروسته په پوره توګه په افغانستان کی دهند پوځی لاسوهنو زیاتی ومومند چی په ۱۹۹۰ کی پخپله راجیو ګاندی دیوی هندی ورځپانی سره په مرکه کی په ډاګه وویل : ... روسانو نجیب په ستونزورو حالاتو کی یواځی پریښود که چیری هند له نجیب سره مرسته نه وای کړی نو خاتمه اوله منځه تلل یی ضروری ؤ ، ددی ټولو ویلو مقصد دادی چی کله دامریکا افغان مجاهدینو ته ضرورت ؤ نو دافغانانو دقهرمانیو ستاینه به یی کوله اوچی کله یی روسانو په مخکی سرښکته کړ دخلیج دتیلو دنیولو ویره ورکه شوه نو امریکا افغان مجاهدین یواځی فراموش نه بلکه په مقابل کی یی زهرجن تبلیغات هم پیل کړل دافغانانو په منځ کی ځینو اسلام ضد عناصرو دنفاق سپږی(عیوټی) لاپسی لمن ووهله اوله بده مرغه افغانانو داسلام ضد عناصرو دغه هلی ځلی شنډی نکړای شوی پخپلو کی سره یو موټی نه شول ځکه طاغوتی ځواکونو داپروپاګند پیل کړ چی اوس په افغانستان کی جهاد نه بلکه داقتدار اخیستو جنګ دی په همدی اړوند چی دامریکا یوی اونیزی تایم ددسمبر ۱۹۹۱ دلومړی اونی په ګڼه کی څه لیکلی ؤ داسلام ضد عناصرو عزایم ښه په ډاګه کوی لیکلی یی و : ... دافغانانو په منځ کی مستقلو تربګنیو او مخالفتونو دملګرو ملتو لخوا په افغانستان کی دامنیت دراوستو کوښښونه له ناکامی سره مخامخ کړل دافغانستان دربړی دحل دځنډیدو په نتیجه کی په افغانانو کی لسانی ، نژادی ، قومی اوداسی نور مخالفتونه زور اخلی او دغه مخالفتونه اوس دی حد ته رسیدلی چی په شمالی افغانستان دتاجك احمد شاه مسعود قبضه ده په غربی او منځنی افغانستان ایران کنترول حاصلول غواړی په کنړ کی ددوو تنظیمونو تر منځ مخالفتونه روان دی او زیاته کړی یی وه چی نژدی ده چی افغانستان توټی توټی شی همدغی مجلی په مارچ ۱۹۹۰ کی دیوه روسی سفارتکار له خولی لیکلی ؤ چی افغانان پخپلو کی یو پربل ګولی چلوی او داسی ښکاری چی دغه کار ددوی په طبعه برابر دی او خوښوی یی هم په ۲۷ نومبر ۱۹۹۱ کال کی دملګرو ملتونو دافغانستان دکشالی لپاره خاص استازی وویل که چیری افغانان خپل اختلافات ورك نکړی نو دافغانستان تجزیه دومره لری خبره نه ده غربیانو هم خپلو زهرجنو تبلیغاتو ته چټکتیا ورکړی او وایی چی د۱۸۳۸ پوری پر نقشه دافغانستان نوم نه وو په دغو وختونو کی دافغانستا زیاتی برخی دهند او ایران تر سلطی لاندی وی حال داچی اوس هم همغه نفاقونه رامنځ ته شوی تاجك بیلی چغی وهی ایران بیل لاس او پښی وهی پښتانه پخپلو کی سره جنګیږی او نژدی ده چی دپاکستان سرحدی سیموته هم دغه مخالفتونه سرایت وکړی که مونږ فکر وکړو نو دغه ټول داسلام ضد عناصرو همغه ناوړه هلی ځلی دی چی دافغانستان دټوټه ټوټه کیدو لپاره یی پیل کړی نو په داسی ستونزورو حالاتو کی مونږ یواځی او یواځی داسلام دښمنو قوتونو مقابله په اتحاد او اتفاق سره کولی شو او بس .

دروس اقتصادي اوسياسي فضا دومره ګرد جنه شوی چي خپل مشر تابه او خپل پلي کړي پلانونه يی ددا سی خلکو په لاس ورکړل چي هغوي مسايل دپوځي لاری پر ځای دخبرو اترو په ذريعه هوارول غوښتل

دافغانستان دجهاد ...

نوی اسلامی جهاد شروع کړیدی ، اوپه افغانستان کی یی داسلامی جهاد فتوی ورکړیده اوهمدغه عالمان به په افغانستان کی یو اسلامی حکومت راولی او مونږ به یو ځل بیا خپلو کورونو افغانستان ته ځو اوپه افغانستان کی به داسلامی حکومت تر سیوری لاندی شپی او ورځی تیره وو او خپل ارمانونه به اوباسو خو کله چی ځینی(ځنی) دعلماو داحال وګورو چی نوی دتنظیمونوپه دامونو کی بندپاتی شوی دی او دتنظیمونو دغلامی کړی یی په غوړ کړی اوپخپلو مینځونو کی نوه ډلی شوی دی څه چی ورته دتنظیمونو مشران وایی هغه منی او سمدستی وربانډی فتوی صادره وی ، له ځانو څخه یی دسپاك جوړ کړیدی چی هر څوك وربانډی خپل لاسونه پاکوی څه موده مخکی می یو اخبار ولید چی دافغانستان یو مشر مجاهد چی عالم او پرهیزکار شخص دی اودخپل قوم او کورنی څخه یی بیحده زیات شهیدان هم ورکړی دی او اوس هم پدغه مقدس جهاد کی لګیا دی ځینی بی وقوفه خلکو دعلماوو په نوم په غلطه سره فتوی صادره کړیده او هغی مجاهد ته یی دباغی اوساعی بالفساد نسبت کړیدی او ایت مبارك یی دبی علمی او بی وقوفی له کبله غلط لیکلی دی اوبیایی دعالمانو په نامه ددروغو دستخطونه کړی وو ، داسی معلومیدل چی داکار کومو واقعی عالمانو ندی کړی ، خو دعالمانو په نامه یی خبره تمامه کړی وه .

لدی کبله خلکو ته دعلماوو فتوی محض یو دستپاك ښکاره شوی دی هر څوك چی هر څه وغواړی پرعلماو یی ورتپی .

په هر تقدیر دځینو تنظیمونو دمشرانو هیات مسکو ته لاړ اودروسانو لخوا هم یو هیات پاکستان ته راغی خبری اتری وشوی اوپه نتیجه کی په ډاګه ثابته شوه چی روسان دافغانستان دصلحی په فکر کی ندی او نه یی پدی موضوع باندی څه پروا شته دی روسان دخپلو جنګی اسیرانو او بندیانو دخلاصون په فکر کی دی نو ځکه درګرده همدا اوس جنګی اونظامی وسلی ښمونه طیاری دکابل مزدور رژیم ته رالیږی ، او بهانه داکوی چی مونږ نجیب ته غذایی مواد رالیږو په داسی حال کی چی پخپله روسان دوډۍ کړیږه نو بیا به څنګه غذایی مواد دکابل رژیم ته ولیږی؟

روسی هیات چی پاکستان ته راغلی وو او دځینو تنظیمونو دمشرانو سره یی لیدنه کتنه وکړه په ډاګه ثابته شوه چی دخپلو جنګی بندیانو دخوشی کولو لپاره پاکستان ته راغلی وو او دځینو تنظیمونو مشرانو لخوا هغه روسی بندیان وروسپارل شول او دځان سره یی روسیی ته بوتلل ، چی پدی باره کی یی دعلماو څخه هیڅ فتوی ونه غوښتله او که یی غوښتی وای نو بیابه علما دوه ډلی شوی وای او دتنظیمونو دمشرانو خولو ته به یی کتلی څرنګه چی دهغوی له خوا ورته فرمان صادریده همغسی به یی خپلی فتواوی صادره ولی چی دابه یوه بله دریش خند خبره وه ، ښه وشول چی داسیرانو دخوشی کولو په برخه کی دعلماوو څخه فتوی نده غوښتل شوی او مسوولیت یی پخپل ځان واخیست افسوس دی دافغانی بندیانو او شهیدانو خپلوانو خپل خدای ته صبر وکړی چی ستاسی مدد ګار الله تعالی شی دنورو خلکو په طمع مه کیږی خدای تعالی مو مل شه زما په فکر دافغانستان دعالمانو لپاره یوه واحده اداره په کار ده چی یو مرکزیت ولری اوهلته راټولیږی او هلته یوه واحده شوری ولری او په هره موضوع کی چی وغواړی خپلی فتواګانی صادری کړی او لدینه پرته نوری فتواګانی چی دنیا یی مقصد لپاره وی داعتبار وړنوی او دټولو تنظیمونو علماو داکار په ډیر اخلاص سره شروع کړی او ګډه شوری ولری چی دفتوی مصدر یی یو شی ترڅو پدی شکل دغه اختلافات لری شی او علما دخلکو دلاس دستپاك ونګرځی او داکار دهغه عالمانو په وسیله ښه کیدای شی چی اقتصادی وضعه یی هم ښه وی او دتنظیمونو مشران ورته هم داحترام په نظر ګوری اوپخپله نوی هم خپلو ځانونو ته کره عالمان هم وایی چی نوی اکثره دمشرانو او استاذانوپه نوم باندی یادیږی او که نه نو ظاهرشاه هم په افغانستان کی یو جمعیة العلما درلود چی دشاهی ارګ څخه به چی کوم فرمان صادر شو په پټو سترګو به یی وربانډی فتواوی صادرولی ، په شاهی مانی کی به یی میلمستیاګانی وخوړی ، او په پاکټ کی به ورته روپی کیښودلی او ورته یی کړی نو بیا به یی فتواوی صادری کړی هغه فتوی چی دشاهی ارګ څخه به ورته لیکل شوی وه اوس هم چی ځینی عالمانو ته دتنظیمونو لخوا موټری ، تنخواوی ورکول کیږی نو څنګه به وکړی شی چی دالله تعالی دکتاب دحکم سره سمی فتواوی صادری کړی ؟ خدای تعالی دی وکړی چی زمونږ دافغانستان دعلماو زړونه دموټرو او تنخوا ګانو څخه صبر شی اودصدر اسلام دعلماوپه څیر اوداسلام دامامانو په څیر دمادیاتو د تاثیر لاندی رانه شی او لدی څخه وروسته خپل موقف وپیژنی او درښتینی ، صادقو او متقی عالمانو په ډله کی حساب شی الله تعالی دی ورته دنیکی توفیق ورکړی چی واقعی عالمان او دینی اسلامی شرعی خلیفګان شی

وما علینا الاالبلاغ

جهادي قيادت
اودملت په وړاندې يې ستر ...

خپلې منطقي نتيجې ته ورسوي .

دحالاتو دنزاکت په پام کې نيولو سره په زغرده بايد ووايو چې که زموږ د جهاد ورووستي برې څومره ځنديږي په همغه اندازه يې دبشپړ برې په لار کې سوالونه او شکونه راولاړيږي ، نړيوالې دسيسې يې په مخه کې زياتيږي اودغه توريالي ولس د(۱۷) لکو شهيدانو دوينو قرباني دنابودۍ له خطر ناك ګواښ سره مخ کيږي .

که زموږ دمجاهد ملت دورووستي برې په لار کې خنډونه او ستونزې ددښمن له خواديوه ملت اويوه ولس پرخلاف واى او ددښمن دقوت او پوځي برترۍ په نتيجه کې خداى (ج) مه کړه زموږ مجاهد ملت دخپلې خوښې له نظام جوړولو نه محروم شوى واى نودابه يوازې يو هيواد «افغانستان» داستعمار ترلاس لاندې پاتې کيده ، خو اوس دافغانستان دمومن ملت جهاد يوازې دافغان ولس جهاد نه دى ، اونه يې نتايج ديوه ملت په ګټه او تاوان باندې تماميږي .

نور زموږ دمومن ملت جهاد يو نړيوال جهاد دى او نتايج يې هم په يوه ملت پورې نه په بشپړ اسلامي امت پورې تړلې دي چې که خداى (ج) مه کړه دغه جهاد سره له دومره عظيمې قربانۍ خپلې منطقي نتيجې « داسلامي حکومت قيام » ته ونه رسيږي نو دټول امت هيلې او اميدونه به له خاورو سره خاورې کيږي، دپورتنيو څرګندونو نه مو مطلب دادى چې دامت او ملت سترګې مو نن دشهيدانو په وينو رنګيدلو مورچلونو اصلي وارثانو ته دي ، چاچې تر ننه پورې دجګړې ډګر تود ساتلى ؤ ، چاچې په خپل مومنانه ثبات دکمونيزم (سومنات) رانسکور کړ نن هم دملت داينده اوبرخليك اصلي ټاکوونکي همدوى دي ، او دوى بايد په دغو حساسو شرايطو کې دنجيب دمزدور رژيم درانسکورولو لپاره په يوه پريکنده تصميم دملت غوښتنو ته مثبت ځواب ووايي .

زموږ دملت دبرخليك په باب ډير جديت او سرعت عمل ته ضرورت دي ځکه وخت په چټکۍ روان دى او هره شيبه اودقيقه يې پر موږ دچټکۍ غږ کوي ، ښايي زموږ دمومنو قوماندانانو جهادي قيادت او مجاهد ولس لپاره له دغه سترې لانجې نه دوتلو لپاره ورووستنى فرصت وي چې بايد لازمه ګټه ترې پورته کړې شي او موږ دجهادي مشرانواو مومنو قوماندانانو مسوليت بولو چې نوردسياسي تجارانو اودپرديو اشارې ته منتظر و نه څيرو په اميدونو خاورې وروارو‌ی ، په يوه هماهنګ اقدام په ټول هيواد کې دجهاد تکبيرونه اوچت او دسياست پر ډګر يو واحد دريځ اعلان کړي ، زموږ باور دى چې که دهيواد دننه په يوه قومانده او يووالي ددښمن پر پوځي قرارګاو بريد وشي رژيم به خامخا سقوط کوي او همدغسې که زموږ دټولو مورچلونو غازيان سره يولاس اودسياست پر ډګر ديوه واحد دريځ خاوندان وي نو بيا به سياسي معامله ګرانو اودپرديو دلاس اله څيروته هيڅکله هم ددې فرصت نه وي چې زموږ دمجاهد ملت دورووستي برې په لار کې خنډ شي او ډير زربه که دچا خوښه وي اوکه نه په ګران افغانستان کې داسلامي نظام بيرغ رپيږي.

انشاالله

افغانانو «سومنات» مات کړ...

تير شوى دى دهغو ټولو په عبادت کې دا مجاهد مسلمان شريك دى په هر حال داوسنى تاريخ موږ په دوه شکله ذکر کوو دجدى شپږمه تاريخ به موږ په دوه جهته يادوو داخلکو ته يادوو چې تاريخ‌دافغانستان دمسلمانانو‌د وينې توييولو دجوماتونو دړنګولو ، قران کريم دسوځولو ، داسلامي شعايرو تر پښو لاندې کولو ورځ ده چې په افغانستان کې شروع شول اوبل لورى ته دادهغو ملتونو چې مخکې دروس‌داستعمار لاندې راغلي وو او دسرو روسانو له خوا هضم شوي وو دهغوى دازادۍ ورځ ده ددنيا په ټولو ملتونو کې پدې پيمانه خلك دظلم دلاسه نه دي مهاجر شوي لکه دافغانستان مسلمانان چې دروسانو دظلم له لاسه مهاجر شول .

دافغانستان د۱٦ لکو نه زيات مسلمانان شهيدان شوي چې اکثره يې په سنګر کې شهيدان شوي دي چې ددې علت ددښمن قوت اوپه تش لاس دافغانانو مقابله وه چې په سنګر کې دومره شهيدان او معيوبين ورکول په لنډ تاريخ کې سارې نلري .

بل خواته همدغه تاريخ دجدى ٦ مه دطلوع فجر ياد رنهايى شروع ده که سرې وګورې روسانو يرغل وکړ خو دوى په خپله دهمدغه يرغل په سبب تباه اوبرباد شول اوتراوسه په جنګونو کې چا روسانو ته دومره تلفات ندي اړولي لکه په افغانستان کې ، کوم مملکت ته چې روسان داخل شوي و بيا يې ماتې او منده نه وه کړې خو دافغانستان نه يې چې شکست‌وخوړ بيا دچکوسلواکيا ، رومانيا ، پولينډ شرقي المان څخه هم ووتل اوپه داخل کې هم ټوټه ټوټه شول نو ددې څخه داسې تعبير کيږي چې د۱۳۵۸ کال دجدى شپږمه ورځ دروسانو دپاره دذلت او دمظلومانو دپاره درنهايي اوخلاصون شروع وه نوپه دې حساب بيا موږ دجدى شپږمه ورځ ننګينه ورځ نه بولو دابيا موږ دا موردرحمت ورځ بولو اودعدل دراتلو ورځ يې بولو چې الله (ج) غضب په روسانو باندې نازل شو اودوى دمحوه کولودپاره يې دمسلمانانو په لاس کې توره ورکړه اودوى دمحوه کولو ورځ شروع شوه نو په دې حساب داتاريخ دافتخار تاريخ دى نو دغه ورځ که له يوى خوا په افغانانو دروسانو له خوا دظلم او وحشت ورځ دپيل ورځ ده نودبلى خوا دافغاني مسلمانانو دعزت اوکرامت ورځ هم ده اوس که دجنګ بقايا پاتې دي ددغې صفا کول هم دالله (ج) يو امتحان دى چې نجيب يا دهغه امثال په افغانستان کې پاتې دي اوجنګ په افغانستان کې روان دى اوس الله تعالى داسې امتحان راوست چې ډير خلك سره لدې چې شهيدان يې ورکړي بيا هم جهاد اودکفر مقابله نه کوي خلقيانو پرچميانو او کمونستانودافغانستان په مسلمانانو بې حده زيات ظلمونه کړي دي نو يوازې بې ننګه اوبې ايمانه خلك به دلوى سره دوستي کوي په داسې شرايطو کې دعقل تقاضا داده چې مسلمانان اوس قوي هم دي باخبره هم دي ملګرې يې هم ډير دي اسلحه يې هم ډيره ده تجربه يې هم ډيره ده اوپه مقابل کې دښمن ډير ضعيف دى نو مسلمانان به له کفارو سره جوړه نه کوي زموږ ددښمن کفر هماغه کفر دى کوم چې ۱۳ کاله مخکې و زه وايم چې يو هغه منافق دى چې جنګ ته لاړ شي اودجنګ په جريان کې دسنګر څخه تيښته وکړي قوماندان ته ددې حق شته چې دغه سړى مړ کړي ځکه دغه سړي دنورو مسلمانانو په زړونو کې شکست راولى اودغه کار لويه ګناه ده اوکه څوك داوايي چې اوس جهاد ته مه ځې اودادمسلمانانو وينې توييول دي اودمجاهدينو سره کمك دظالمانو سره کومك بولي اووايي چې دايو افغان بل افغان وژني نو چې څوك داعقيده لري او نور مسلمانان دجهاد څخه منع کوي نودا سنګرنه دتښتيدلو څخه لويه ګناه او کفر دى ځکه خلك هم دجهاد څخه منع کوي اودى کار ته ګناه هم نه وايي بلکې ځان خدمتګار ګڼي حرام حلال ګڼي اوبيا دحرامو په واسطه دالله (ج) څخه دثواب اميد واري هم کوي چې داکار کفر دى

ورونو زه يو ځل بيا وايم چې دجدى شپږمه ورځ که يوى خواته پرافغانستان دروسي لښکرو ديرغل ورځ ده ، نو بل خواته په نړۍ کې دروس دماتې او دسرې امپراطورۍ دټوټه کيدو ورځ ده ، نو که موږ دغه ورځ ددې لپاره غندوو چې ديرغل ورځ ده بايد ددې لپاره يې ولمانځو چې دروسانو دماتې او فضيحتباره شکست ورځ ده واخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمين .

زنده جان (۸) ماه دراتش وخون

علاو الدين خان قوماندان عمومي جمعيت اسلامي در حوزه جنوب غرب افغانستان که تازه از هرات به پشاور امده است در مصاحبه باخبرنګار ميديا ګفته است جنګ درولسوالي زنده جان درغرب هرات که از هشت ماه پيش اغاز شده اکنون به نفع مجاهدين در حال فروکش شدن است.

وى ګفت درين جنګ که درتلافي شکست رژيم در لوى ولسوالي خوست ولايت پکتيا اغاز ګرديد بيش از ده هزار نفر از قواى دشمن شامل افراد خاد ، قواى مسلح ، څارندوى وملیشه هاى بد نام ګليم جمع وساير قواى دست داشته ان درکابل ، وهرات درحاليکه بايك هزار عراده تانك وقواى مجهز هوايي حمايت مى شدند شرکت داشتند .

بقول قوماندان علاو الدين خان طى مدت هشت ماه جنګ بيش از ۲ هزار نفر از افراد قواى مهاجم هلاك بيش از ۱۲٥ عراده تانك تخريب ودو طياره جنګي سقوط داده شد درحاليکه مجاهدين خود مجموعا ۳۰۰ شهيد مجروح ومعيوب داشته اند.

قوماندان علاو الدين خان که يك هفته پيش از هرات به پشاور امده است مى افزايد درجنګ هشت ماهه بسيارى از تاسيسات عام المنفعه چون شفاخانه ها ، کلينك هاى صحي ، مکاتب ومساجد با بمباران هاى کور طيارات رژيم باخاك يکسان شده وعده زيادى از هموطنان ماکه حدود ۳۰۰۰۰ خانواده تخمين زده ميشوند به مهاجرت درداخل و جمهورى اسلامي ايران مجبور شده اند.

طبق اظهار وى تنها درولسوالي زنده جان که حدود ۱۵۰۰۰ خانواده زندګى داشت درحال حاضر هيچ منزل بى صدمه باقى نمانده است همچنين براثر اين بمباران ها چند حوزه علمي ويك ورکشاپ مجهز براى تهيه اعضاى مصنوعى به مجاهدين معيوب ويك اداره کمك رسانى به محتاجين که درولسوالي زنده جان مرکزيت داشتند از هم پاشيده وازبين رفته اند.

قوماندان علاو الدين خان از همنوايى شهريان هرات با مجاهدين که از اغاز جهاد تاکنون ادامه يافته باقدر دانى ياد کرده وعلاوه کرد که برپايى تظاهرات واعتصابات نظم شهرهرات رابرهم زده ومشکلات زياد براى منسوبين رژيم بميان اورده است .

وى در ارتباط حالت موجود ګفت به نسبت تباهى زراعت دربسيارى ولسوالي ها ازجمله ولسوالي غوريان وضع مردم فلاکتبار است وازسوى قوماندان اسماعيل خان امر عمومي حوزه جنوب غرب مکاتيبى به سازمان ملل ارسال شده ودر ان ازساير موسسات خيريه بين المللى وبشر دوست تقاضاى کمك شده است .

علاو الدين خان درپاسخ به يك سوال در رابطه به حل قضيه افغانستان بر ګزارى همه پرسى عمومى را تجويز نموده وانرا يګانه طريق حل مشکل دانسته وعلاوه کرد که تصميم ګيرى از طرف چند نفر محدود نميتواند درين زمينه مثمرثمرى ګردد .

داګولی !... دکوم ټوپك ...

هغه دلويي ويالي په غاړه پروت دى .
ګولى يې په سينه کې سړې شوي دي خو ددښمن ګولى نه دي افسوس چې نور مى قلم ... نه شي ليکلى .
نه ليکي چې دادچا ګولى دى ، دچا دټوپك له شپيلي راوتلي اوولى ؟!!

دهیواد په تودومورچلو کی

بغلان :
دقوماندانانو شورا نظامی دفتر رپوټ ورکوی چی مجاهدینو دجدی په اوومه نیټه دبغلان ولایت دمرکز پلخمری ښار دبرق ستیشن یوه استراتیژیکه پوسته فتحه کړی اودرژیم قواوو ته یی دسراو مال زیات تاوانونه اړولی
رپوټ وایی پدی برید کی درژیم دوه عرادی نقلیه وسایل ویجاړ ۱٤ میله درندی او سپکی وسلی دیوی پایی مخابری سره په ولجه نیولی اودرژیم ۱٤ تنه ملشیه یی هم اسیران کړی دی
کندهار :
په کویټه کی دمیډیا دنمایندگی درپوټ له مخی مجاهدینو دجدی په شپږمه نیټه دکندهار ښار دفقیر بابا په سیمه کی درژیم دوه پوستی فتحه اودرژیم عسکرو ته یی دسراومال تاوانونه ور واړول .
پدی برید کی مجاهدینو دوه میله راکټ ، یوه درنده ماشیندار ۱۳ میله کلاشینکوفونه ، یوتمانچه دمخابری دوه دستگاوی او زیات شمیر لوژستیکی موادو او مهماتو سره په غنیمت نیولی .
فاریاب :
به اساس راپور میدیا از ولایت فاریاب مجاهدین طی حملات موفقانه بروز ٦ جدی برمراکز دشمن در ولسوالی شرین تگاب این ولایت ۱٥ تن افراد رژیم را هلاك وعده را زخمی نمودند .
خبر می افزاید مجاهدین توانستند طی این عملیات یك میل هاوان یك میل زیکویك ، یك میل ماشیندار ، ۱٥ میل کلاشینکوف ومقداری از مهمات رابه غنیمت بگیرند .
غور:
په کویټه کی دمیډیا نمایندگی رپوټ ورکړی چی مجاهدینو ددی ولایت دشهرك ولسوالی په مربوطاتو کی درژیم دقواوو یو تعرضی برید په شاتمبولی اودملیشه وو دوه قوماندانان محمد شفیق او محمد رفیق یی دیو شمیر ملیشه وو او عسکرو سره وژلی اودرژیم له قواوو څخه یی یو زیات مقدار وسله او مهمات په ولجه نیولی .
سمنگان :
به اساس راپور میدیا مجاهدین این ولایت بر پوسته های رژیم واقع در شاهراه کابل حیرتان بتاریخ ۱۳ جدی حمله ورشدند ، که بعد از درگیری شدید مجاهدین توانستند ۲ پوسته رژیم را منهدم ۱۲ تن از افراد رژیم راهلاك ۱۸ تن دیگر را همراه با اسلحه شان به اسارت گرفتند همچنان مجاهدین این ولایت بتاریخ ۱۲ جدی یك پوسته رژیم را درکمربند امنیتی شهر ایبك مرکز این ولایت فتح نموده اند وقوماندان پوسته را همراه با ۱۰ تن از ملیشه های ان به اسارت گرفته اند .
غزنی :
میډیا دغزنی ولایت څخه رپوټ ترلاسه کړی چی مجاهدینو دغزنی ښار دروضی په پوستو باندی په یوه برید کی ددی کمربند یوه پوسته فتحه کړی اودکابل رژیم یوه صاحب منصب یی وژلی همدارنگه مجاهدینو یوه عراده ټانك سوځولی او دغزنی ښار امنیتی کمربند یی مات کړی ، مجاهدینو دپوستی قوماندان او څو تنه نور عسکر بندیان نیولی یو میل پی کا ٥ میله کلاشینکوف اویوه پایه مخابره یی ولجه کړی.

دهندی پوځیانو لخوا دنوی کال سوغات

سرینگر ، دجدی ١٤مه :
په نیول کشمیر کی هندی پوځیانو دنوی عیسوی کال په لمانځلو سره ۲٦ تنه بی گناه کشمیری مسلمانان په شهادت ورسول .
خبر ځای زیاتوی دغه پیښه هغه وخت منځ ته راغله څه وخت چی دسرینگر په یوه کوڅه کی اوسیدونکی پخپلو کورونو کی دخدای پاك په عبادت لگیا وو.
اودکشمیر دازادی دعاوی بي کولی خو یوه ډله هندی پوځیان دشرابو په نشه مست په کورونو ورننوتل اودخلکو په وهلو ټکولو یی پیل وکړ څه وخت چی کشمیریان دهندی پوځیانو ددغه ناوړه عمل په مقابل کی راپورته شول نو هندی پوځیانو پری گولی وچلولی او ۲٦ تنه کشمیری مسلمانان یی شهیدان کړل.

جمهور رئیس او صدراعظم باید له سکانو څخه بخښنه وغواړی

نوی ډیلی ، دجدی ١٤ مه :
دهند دزیاتو سیاسی گوندونو مشرانوله حکومت څخه غوښتنه کړی چی دهند جمهور رئیس او صدراعظم باید له سکانو څخه دهغی حملی په سبب بخښنه وغواړی کومه چی د۱۹۸۰ کال دجون په میاشت کی په هندي پنجاب کي دسکانو په مقدسو مذهبی مقاماتو باندی ترسره شوی وه .
رپوټونه زیاتوی چی دتیری جمعی په ورځ دهند دپنجاب په ایالت کی دروانو کشمکشونو په اړه دهند سیاسی گوند دمذاکری یوه غونډه جوړه کړی وه چی دهغی په ترڅ کی یو پریکړه لیك تصویب شو ، اوددپریکړه لیك په ترڅ کی داغوښتنه وشوه ولی دکانگریس گوند له دغی غوښتنی سره خپله موافقه نده ښودلی .
دیاوونی وړ ده چی د۱۹۸۰ کال له حملی وروسته دسکانو دازادی غوښتنی تحریك نور هم گړندی شو ، او دتیرو څو کلونو په ترڅ کی یی بی شمیره هندوان اودولت رسمی مامورین په قتل ورسول .

ددیموکراسی او سیاسی ازمینتونو کال

لندن ، بی ، بی سی راډیو :
دجنوبی اسیا په هیوداونو کی تیر میلادی کال ۱۹۹۱ دسیاسی حالاتو پر بنا دديموکراسی دټینگښت او ازمیښتونو کال بلل کیږی .
دبی ، بی ، سی راډیو دیوی تبصری په ترڅ کی ویل شوی چی په تیرعیسوی کال کی په بنگله دیش ، نیپال ، هندوستان اوپاکستان کی کومی سیاسی پیښی رامنځ ته شوی وی ۱۹۹۱ دهغو دپراختیا او تکمیل کال بلل کیږی .
په بنگله دیش ۱۹۹۱ کال دانتخاباتوله پیل سره جوخت راغبرگ شو ، چی دتیرو لسو کلونو په ترڅ کی دالومړنی ازاد او منصفانه انتخابات پدی هیواد کی بلل کیدای شی .
ولی دبنگله دیش نوی حکومت دډیرو هلو ځلو سره سره بیا هم دهیواد دربدره اقتصادی وضعیت جوړ نشو کړای .
په همدی ډول په نیپال کی هم تیر عیسوی کال ۱۹۹۱ دديموکراسی اوجمهوری پارلمان دجوړیدو کال وو ، په نیپال کی دپراخو ولسی مظاهرونه وروسته حکمران گوند دی ته راضی شو چی څو گوندیز سیستم په دغه هیواد کی راولی .
۱۹۹۱ کال دهند لپاره دسیاسی ازمیښت او امتحان کال وو ، د۱۹۹۰ کال په وروستیو کی دبابری جومات مسئلی دشدت له امله دوی ، پی سنگ حکومت له منځه لاړ ، خو بل حکومت دڅو میاشتو نه زیات دوام ونشوای کړای اوداتلسو میاشتو په موده کی دوه ځله په هند کی عام انتخابات اعلان شول .
دانتخاباتو داړو دوړ په منځ کی دکانگریس گوند مشر اوپخوانی صدراعظم راجیو گاندی ووژل شو ، اودکانگریس گوند دهمدردی داحساس په اساس انتخابات وگټل .
همدارنگه په پاکستان کی دنواز شریف ترمشری لاندی داسلامی جمهوری اتحاد حکومت خپل یو کال پوره کړ پدی یوه کلنه موده کی دحکومت او مخالف گوند تر منځ کشمکش اواختلاف نړیواله خبری موضوع وگرځیده .
دتیر کال ۱۹۹۱ په ترڅ کی دافغانستان دمسئلی دسیاسی اواری لپاره هلی ځلی گړندی شوی او دجگړی دختم څه امیدونه راپیدا شول .
خوددی کال په ترڅ کی دسریلانکا له کورنی جگړی اور لاهماغسی گرم وو.

کوریایي اتوم پوهان په اسرائیلو خرڅیږي !

واشنگټن :نوایي وقت ورځپاڼه
دامریکا له کانگریس څخه ځیني خصوصي رپوټونه وایي چي داسرائیلو حکومت دشمالي کوریا اټومي ساینس پوهانو ته پیشنهاد کړي چي دښي تنخواه په بدل کي هغوي ته کاروركړي .
رپوټونه وایي دامریکاپه کانگریس کي داسرائیلو سرسخت یهودي مدافع ستیفن سولارز داسرائیلو دحکومت دغه پیشنهاد دشمالي کوریا ساینس پوهانو ته رسولي دي پدي لړ کي تیره میاشت ستیفن سولارز شمالي کوریا ته سفر کړي او په ښکاره ډول یي ددغه اټوم پوهانو سره لیدني کتني کړي .
رپوټونه وایي دشمالي او جنوبي کوریا ترمنځ داټومي وسلي دبندیښت په اړه ترتړون وروسته به شمالي کوریا خپلي اټومي وسلي دجوړیدو کارخانې بندي کړي چي په نتیجه کي ددي هیواد یو زیات شمیر اټومي ساینس پوهان له بي روزگاري سره مخامخ کیږي .
نړیوال مبصرین وایي چي کیداي شي چي حداقل (۳۰) تنه دغه اټوم پوهان داسرائیلو وړاندیز ته لبیك وایي پداسي حال کي چي اسرائیلو تردي دمخه (٥۰) تنه روسي اټوم پوهان هم استخدام کړي .

دوړانکارو هندوانو دوحشت یوه بله بیلگه

نوی ډیلی دنوای وقت ورځپاڼه :
په هند کی متعصبو او وړانکارو هندوانو دقران کریم څلور نسخی او ۳٦ متفرقه سپاری سوځولی خبر ځای زیاتوی په هند کی هندوانو دمسلمانانو دربړولو اوازارولو لپاره دجوماتونو او قران شریفونو په بی حرمتی لاس پوری کړی دی ، چی دهمدغی لړی یوه پیښه په تیرو ورځو کی په بیگم پوره نومی ځای کی هغه وخت مخی ته راغله څه وخت چی دبهارتیه جنتا گوند او نورو متعصبو هندوانو له یوی مدرسی څخه قران شریفونه او سپاری غلا کړی او اوریی ورته کړ بلی خواته دمسلمانانو داحتجاج په نتیجه کی دغه خلك ونیول شول ولی بیرته سمدستی پولیسو دلیونو په نوم پریښودل دوی دخلاصون په ضد چی دمسلمانانو احتجاج زور وموند نو بیرته دپولیسو لخوا دوه تنه وړانکاری هندوان ونیول شول چی تراوسه یی حال احوال نه دی معلوم شوی دغه ډول پیښي ښکاروي چي په نړی کی داسلام غوښتنی دتحریکونو پراختیا اوداسلام دتیر برم دبیا را ژوندی کیدو ویری په سر اخیستی هندوان اوس غواړی پدی ډول دمسلمانانو احساسات راوپاروی اوددهشت او ناارامی فضا رامنځ ته کړی .

دکشمیر دلانجي هیڅ ډول سیاسي حل امکان نلري !

راولپنډي - دجدي ١٤مه
په نیول شوي کشمیر کي دهندي یرغلگروسره په جگړه بوختو مجاهدینو دیوي مشهوري ډلي حزب المجاهدین عمومي منشي عبدالمجید ډاروېلي دي چي دکشمیر دکشالي هیڅ ډول سیاسي حل امکان نلري ددی کشالي یوازیني حل ټوپك او گولي ده که دکوم ډول سیاسي حل امکان وای نو تراوسه به رابرسیره شوي وو .
نوموړي وویل چي په هند باندي دازادی غوښتونکو له لوري دومره فشار راغلي چي اوس دکشمیر دداخلي ازادي لپاره تیاردي او دپاکستان سره هم پدي هکله خبري کوي پداسي حال کي چي تردي مخکي یي هرډول خبري ردولي . نوموړي زیاته کړي چي دازادي غوښتني فعالیتو نه یوازي په کشمیرکي نه بلکه په اسام ،پنجاب او اتراپردیش کي هم اوس داسي تحریکونه راپورته شوي عبدالمجید ډار هندي حکمرانانو ته وویل چي دټوپك په زور دیوه نسل غلي کول ممکن ندي !
همداراز دکشمیر دازادي غوښتونکو مجاهدینو دبلي ډلي مشر «اشرف صراف» ویلي دي چي هندي واکمن دکشمیر کشاله دیقین شویو بین المللي اصولو پرځاي دغیرانساني لارو چارو په واسطه حل کول غواړي خوکه ددوي دغه رویه دوام وکړي ډیر ژر به دروسي امپراطوري په څیر ددوي تغر هم ورټول شي . هغه وویل چي که دبرلین دیوال ماتیداي شي دروس امپراطوري ټوټه کیداي شي نو کشمیر هم خپله ازادي اخیستلاي شي .

دهیئت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۲۳)
یونیورسټي ټاون پیښور
ټیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»